**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**

**د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۴۷** (از ۲۸ قوس الی ۵ جدی ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه ........ ۲

## دور جدید مذاکرات و مشکل نماینده‌گی از طالبان

- دفتر قطر و مذاکرات ارومچی و مری ........ ۳
- دفتر قطر و مذاکرات پروژۀ تاپی ........ ۴
- نقش دفتر قطر در دور جدید مذاکرات ........ ۵
- نیاز تشخیص نماینده‌گان با صلاحیت طالبان ........ ٦

## د نړيوالې سوداګرۍ سازمان او پر افغانستان يې د غړيتوب اغېزې

- د نړيوالې سوداګرۍ سازمان (WTO) شاليد ........ ۹
- د نړيوالې سوداګرۍ سازمان کې د غړيتوب کرونولوژي ........ ۱۰
- د نړيوالې سوداګرۍ سازمان په تړاو د افغانستان تګلاره ........ ۱۱
- پر افغانستان د دغه سازمان د غړيتوب مثبت او منفي اغېزې ........ ۱۱
- مثبت ټکي ........ ۱۲
- منفي ټکي ........ ۱۳

## مقدمه

پاکستاني رسنیو خبر ورکړی، چې د رواني میلادي میاشتې (جنوری) په لومړیو کې به، له افغان حکومت سره د طالبانو د سولې خبرې بیا پیل شي.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د خرابو اړیکو له وروستۍ څپې وروسته افغان ولسمشر اشرف غني د آسیا زړه هېوادونو په کنفرانس کې د ګډون لپاره پاکستان ته سفر وکړ. پاکستانیانو د افغان ولسمشر خورا تود هرکلی وکړ او هلته په ملاقاتونو کې د افغان سولې بهیر پر بیا پیلېدو هم خبرې وشوې.

د آسیا زړه کنفرانس له ختمېدو سره یو ځل بیا دا هیلې راوټوکېدې، چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ به د سولې خبرو اترو دویم پړاو ډېر ژر پیل شي. په پاریس کې د افغان ولسمشر او د پاکستان د لومړي وزیر په دوه‌اړخیزه ناسته کې نوازشریف وړاندیز کړی و، چې دا ځل به د سولې خبرو اترو څلور اړخیزې ناستې وشي، چې د افغانستان او پاکستان ترڅنګ به امریکا او چین هم پکې برخه واخلي.

پر افغان حکومت دا نیوکې هم شته، چې ګواکې د پاکستان پر ژمنو یې بیا بیا باور کړی او پاکستان یا خو په خپلو ژمنو کې ربښتینی نه دی او یا یې هم دا چاره له وسه پوره نه ده. د پاکستان په منځګړیتوب دوه پړاوه خبرې د چین په ارومچي او د اسلام‌آباد په مري کې ترسره شوې، چې ګډونوال یې تر ډېره د طالبانو باصلاحیته استازي نه وو. اوس پوښتنه دا ده چې دا ځل به پاکستان د طالبانو باصلاحیته استازي د خبرو اترو مېز ته حاضر کړای شي کنه؟ د دې ترڅنګ افغان حکومت ته څه پکار دي، ترڅو باوري شي چې د طالبانو له باصلاحیته استازو سره به مخ کېږي؟

د تحلیل په دویمه برخه کې د نړیوالې سوداګرۍ سازمان (WTO) کې د افغانستان د غړیتوب په اړه لولئ. افغانستان، له کابو یوې لسیزې انتظار وروسته بالاخره د دغه سازمان غړی شو. دا غړیتوب، د افغان دولت لپاره دویمهستره اقتصادي توافق‌نامه ده، چې د تاپي پروژې له توافق‌نامې وروسته یې لاسلیک کوي؛ خو په دغه سازمان کې غړیتوب، د افغانستان په څېر مخ پر ودې او وروسته پاتې هېوادونو لپاره د ګټو ترڅنګ زیانونه هم لري. په دغه سازمان کې د افغانستان د غړیتوب کرونولوژي او تګلاره څه ده؟ او همدا راز پر هېواد به یې مثبت او منفي اغېزې څه وي؟

# دور جدید مذاکرات و مشکل نماینده‌گی از طالبان



حکومت پاکستان وعده داده است که مذاکرات صلح میان طالبان و حکومت افغانستان به زودی از سر گرفته خواهد شد و پاکستان در این رابطه تلاش‌های خود را آغاز کرده است.

سوال مهم در این رابطه این است که این مذاکرات با کدام گروه از طالبان صورت خواهد گرفت؟ رسانه‌ها از دو پارچه شدن طالبان سخن می‌گویند که یکی به رهبری ملا اختر محمد منصور است و دیگری را ملا محمد رسول سرپرستی می‌نماید. در عین حال خبرهایی از درگیری‌های مسلحانه میان این دو گروه نیز به گوش می‌رسند.

## دفتر قطر و مذاکرات ارومچی و مری

در مذاکرات ارومچی در کشور چین و مری در نزدیک اسلام‌آباد، پاکستان کسانی را به مذاکرات با حکومت افغانستان آورد که افراد موثر در صف طالبان نبودند. از همین‌رو، گفته می‌شود نیروهای پاکستانی پیش از نشست مری، تعداد زیادی از زخمی‌های طالبان را که در شفاخانه‌های خصوصی در کویته و پیشاور بودند، دستگیر کردند و از این طریق بر جناح اصلی طالبان فشار وارد کردند تا نماینده‌ای را به مذاکرات مری بفرستند.

ملا اختر محمد منصور زیر این فشار، مجبور شد تا عبداللطیف منصور یکی از اعضای شورای مرکزی تحریک طالبان را به نماینده‌گی از خود به نشست مری بفرستد، در حالیکه دفتر قطر طی یک اعلامیه، هرگونه رابطه با مذاکرات مری را

رد کرد. به دنبال آن خبر درگذشت ملا محمد عمر افشا شد و در نتیجه، طیب آغا از ریاست دفتر قطر استعفا داد. شاید یکی از دلایل استعفای طیب آغا نیز این باشد که چرا ملا اختر محمد منصور تسلیم فشار پاکستان شد و چرا با فرستادن نماینده‌ای خارج از دفتر قطر به این مذاکرات، خلاف اصولی که طالبان همیشه روی آن تاکید داشتند، موجب بی‌اعتبار شدن دفتر قطر گردید.

در مذاکرات ارومچی و مری، پاکستان افرادی چون ملا محمد رسول، ملا عبدالرزاق، ملا جلیل، ملا حسن رحمانی و حاجی ابراهیم برادر مولوی جلال الدین حقانی وغیره را به مذاکره حاضر کردند در حالیکه هیچکدام از این افراد در صف جنگجویان طالبان نفوذی نداشتند. حاجی ابراهیم در طول چهارده سال گذشته بیشتر در کار تجارت مصروف بوده و هیچ رابطه‌ای با جبهۀ سراج الدین حقانی ندارد، اما پاکستان حاجی ابراهیم را به عنوان نمایندۀ "شبکۀ حقانی" معرفی کرد. در این نشست، افراد بلندپایه‌ای از آی اس آی نیز حضور داشتند.

از همین‌رو برخی از تحلیلگران به این نظر اند که ملا محمد رسول به خاطر قبول دعوت پاکستان و شرکت در این دو نشست، توانست جایزه دریافت نماید و به همین دلیل او اجازه یافت تا در برابر ملا اختر محمد منصور رهبری گروه دیگری از طالبان را به دست آورد.

## دفتر قطر و مذاکرات پروژۀ تاپی

پاکستانی‌ها در طول چند سال گذشته تلاش‌های زیاد برای بی‌اعتبار ساختن و بستن دفتر قطر داشتند، اما در این کار توفیق زیادی نیافتند. طالبان از طریق این دفتر موفق به تامین رابطه با کشورهای مختلف جهان شدند و از این طریق در کنفرانس‌ها و نشست‌های متعددی شرکت نمودند و موقف شانرا به جهانیان واضح ساختند. یکی از کشورهایی که طالبان با آن‌ها از زمان حکومت شان رابطۀ دوستانه داشتند، ترکمنستان بود. این رابطه بعد از حملۀ امریکا به افغانستان و از میان رفتن حکومت طالبان، قطع گردید اما با تاسیس دفتر قطر مجددا از سر گرفته شد.

ترکمنستان کشوری با منابع سرشار گاز است و می‌خواهد گاز خود را به جنوب آسیا صادر نماید. این تلاش‌ها بعد از استقلال ترکمنستان از اتحاد شوروی آغاز شد که رقابت میان کمپنی بریداس از ارجنتاین و یونیکال از ایالات متحدۀ امریکا را برای به دست آوردن قرارداد این پروژه به دنبال داشت.

مسیر افغانستان می‌توانست به این رؤیا جامۀ عمل بپوشاند، اما جنگ‌های تنظیمی و سپس جنگ طالبان با حکومت مجاهدین، مانع رسیدن به این هدف بود. کنترول طالبان بر بخش بزرگی از افغانستان به شمول تمام ولایاتی که این

پایپ‌لاین از آن می‌گذشت و تامین امنیت نسبی در آن مناطق می‌توانست قدمی به سوی آغاز کار پروژه‌ای باشد که گاز ترکمنستان را از طریق خاک افغانستان به پاکستان و هند برساند. این پروژه را (تاپی) نامیدند، اما مدتی بعد از حاکمیت طالبان، امریکا با مطرح کردن مسایل تروریزم و حقوق زن و حقوق بشر با طالبان به مخالفت برخاست و با تعزیرات اقتصادی، مانع هرگونه سرمایه‌گذاری کمپنی‌های خارجی در افغانستان شد. در نتیجه کمپنی‌های یونیکال و بریداس نیز از بیم متهم شدن به همکاری با تروریزم و هم‌گامی با ناقضان حقوق بشر، از تلاش دست‌یابی به قرارداد پروژۀ تاپی دست برداشتند.

طول این لولۀ گاز تقریبا 1735 کیلومتر بود که 735 کیلومتر آن از خاک افغانستان می‌گذشت، اما حملۀ امریکا به افغانستان و دوام جنگ در افغانستان، به خصوص در مناطقی از افغانستان که باید پایپ‌لاین گاز از آن می‌گذشت، مانع فراراه این هدف ترکمنستان بود. به حدی که حتی حضور 120 هزار سرباز خارجی تحت چتر ناتو هم نتوانست زمینۀ آغاز این پروژه را فراهم آورد.

اکنون سوال این است که در این مقطع از زمان که وضع در افغانستان بیش از هر زمان دیگر در طول چهارده سال گذشته ناامن است و تقریبا تمام مسیر این پایپ‌لاین از مسیری می‌گذرد که طالبان در آن مناطق به صورت مستقیم و یا غیرمستقیم حضور دارند، کار این پروژه به ارزش ملیاردها دالر بدون تضمین امنیت آن از طرف طالبان، چگونه ممکن خواهد بود؟

همزمان با افتتاح پروژۀ تاپی توسط سران چهار کشور ترکمنستان، افغانستان، پاکستان و هند، شیرمحمد عباس استانکزی رئیس دفتر سیاسی طالبان در قطر نیز در ترکمنستان بود و با مقامات ترکمن در مورد امنیت این پروژه مذاکره نمود. با تضمین طالبان که رهبری آنرا ملا اختر محمد منصور به عهده دارد، کار این پروژه آغاز شد.

## نقش دفتر قطر در دور جدید مذاکرات

از زمانیکه طالبان با قبول آدرسی به منظور مذاکرات صلح در قطر، دفتر سیاسی خود را به آن کشور بردند، همیشه تاکید داشته اند که یگانه آدرس برای مذاکرات صلح، همین دفتر است. این ابتکار که توسط ملا اختر محمد منصور روی دست گرفته شد موجب گردید، تا راه مذاکرات جعلی میان حکومت افغانستان و اشخاص مجهولی را که خود را نماینده‌گان طالبان می‌خواندند، مسدود گردد.

اما دفتر قطر از همان آغاز با دو مخالف عمده مواجه بود؛ حکومت افغانستان و پاکستان. دلیل مخالفت حکومت افغانستان، گشایش این دفتر تحت نام امارت اسلامی و برافراشتن بیرق طالبان بالای این دفتر و به گونه‌ای به رسمیت شناختن امارت اسلامی طالبان بود. ولی پاکستان، بعد از اینکه اعضای دفتر سیاسی طالبان به قطر رفتند، پاکستانی‌ها به آنها اتمام حجت نمودند که اسلام‌آباد با هر نشست و مذاکرۀ صلح آنان که نماینده‌گان حکومت پاکستان در آن حضور نداشته باشند، مخالفت خواهد کرد. این مسئله موجب شد تا امریکایی‌ها نیز که در ابتدا این دفتر را به عنوان آدرسی برای مذاکرات صلح پذیرفته بودند، ظاهرا به خواست پاکستان، روی نقش دفتر سیاسی طالبان در قطر در مذاکرات صلح، پافشاری نکنند.

اکنون که بار دیگر پاکستان آمادگی خود را برای حاضر کردن طالبان به دور جدیدی از مذاکرات اعلام نموده است، مشخص نیست که این مذاکرات با کدام گروه صورت خواهد گرفت و در این دور کدام افرادشر کت خواهند کرد. منابع نزدیک به دفتر قطر می‌گویند که به این دفتر هیچ دستوری مبنی بر آمادگی برای مذاکرات صلح داده نشده است.

## نیاز تشخیص نماینده‌گان با صلاحیت طالبان

قرار است بار دیگر مذاکرات صلح در آیندۀ نزدیک میان حکومت وحدت ملی و طالبان با وساطت پاکستان از سر گرفته شود، به حکومت افغانستان لازم است تا بار دیگر درگیر مذاکرات ناقص و جعلی نگردد. مذاکرات صلح باید با جهتی صورت گیرد که حمایت افراد طالبان در میدان جنگ را با خود داشته باشد چون منافع ملی افغانستان فقط در چنین مذاکراتی تامین خواهد شد.

اگر حکومت افغانستان واقعا خواهان مذاکراتی مثمر و مفید با طالبان است، پس لازم است تا قبل از تصمیم در مورد حضور در مذاکرات صلح، از پاکستانی‌ها بخواهد تا هویت کسانی را که به نمایندگی از طالبان در مذاکرات سهم می‌گیرند، اعلام نمایند. این نکته بسیار ضرور است تا قبل از آغاز مذاکرات، در مورد صلاحیت و وابستگی نمایندگان طالبان به جناح‌های مربوط شان بررسی صورت گیرد و مشخص گردد که نمایندگان از دفتر قطر نمایندگی می‌کنند، همان جناحی که تصمیمش در مورد امنیت خط لولۀ گاز تاپی، تضمینی برای کار این پروژه است؛ اما این کار نیز به آسانی ممکن نیست.

ملا محمد رسول دلیل مخالفت خود با ملا اختر محمد منصور را وابستگی وی به پاکستان می‌داند و گفته می‌شود که طیب آغا نیز انعطاف ملا اختر محمد منصور در برابر پاکستان در مذاکرات مری را، یکی از دلایل استعفای خود بر

شمرده است. بنابراین، شرکت در مذاکراتی که تحت سرپرستی پاکستان صورت گیرد، تائید وابستگی به پاکستان خواهد بود. دقیقا همین مسئله می‌تواند مانع شرکت نمایندگان ملا اختر محمد منصور در این مذاکرات گردد. بنابراین یک امکان این است که پاکستان افرادی چون ملا حسن رحمانی، ملاعبدالرزاق و ملاجلیل را که وابستگی به هیچ یک از این دو جناح ندارند، به این مذاکرات حاضر سازد که چنین مذاکرات هیچ دست‌آوردی برای افغانستان نخواهد داشت.

نمایندگان حکومت افغانستان نباید مانند گذشته به نشستی بروند که قبل از داخل شدن به اطاق جلسه، نمی‌دانند به نام طالب با چه کسانی مقابل می‌شوند و این افراد تا کدام حد صلاحیت نمایندگی از طالبان را دارند.

# د نړیوالې سوداګرۍ سازمان او پر افغانستان يې د غړيتوب اغېزې




افغانستان د روان میلادي کال (۲۰۱۵) د ډېسمبر په ۱۷مه د کینیا په پلازمېنه نایروبي کې، د نړیوالې سوداګرۍ سازمان (WTO) غړيتوب ترلاسه کړ او په دې توګه، په نړیواله کچه د دغه سازمان ۱٦۴ او د لږو پرمختلونکو هېوادونو له جملې څخه ۳٦ هېواد شو چې د دغه سازمان غړيتوب ترلاسه کوي.

په دغه سازمان کې غړيتوب ترلاسه کول یوه اوږده پروسه وه او افغانستان هم له ۱۱ کلونو خبرو اترو وروسته په دغه سازمان کې غړيتوب ترلاسه کړ. په افغانستان کې د دغه خبر انعکاس تر ډېره مثبته بڼه درلوده او افغان لوړپوړو چارواکو يې هم پراخ هرکلی وکړ؛ خو دا چې افغانستان د وروسته پاتې هېوادونو په ډله کې دی، ځينې داسې انګيرنې هم شته دي، چې په دغه سازمان کې د افغانستان غړيتوب به، په هېواد کې نوي ټوکېدلې صنعتونه اغېزمن کړي.

دا چې په تېرو يولسو کلونو کې د نړیوالې سوداګرۍ سازمان په تړاو د افغانستان سياست څه ډول و، افغانستان ولې په دغه سازمان کې غړيتوب وغوښت او په نړیوالې سوداګرۍ سازمان کې به غړيتوب پر هېواد څه اغېزې ولري، دلته پرې شننه کوو.

## د نړیوالې سوداګرۍ سازمان (WTO) شالید

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته په پیل کې د یوې داسې درېیمې ادارې جوړولو هڅه وشوه، چې د نړیوالې اقتصادي همکارۍ په برخه کې سوداګري کنټرول کړي. هغه مهال د (بریټن ووډ سیستم) دوې ادارې موجودې وې، چې یوه یې نړیوال بانک او بله یې د پیسو نړیوال صندوق و. وروسته بیا له پنځوسو زیاتو هېوادونو د نړیوالې سوداګرۍ په اړه د یوه داسې سازمان د جوړولو لپاره بحثونه پیل کړل، چې د ملګرو ملتونو تر چتر لاندې کار وکړي؛ خو دغه خبرې اترې ناکامې شوې او خپله د نړیوالې سوداګرۍ سازمان په اند، د دغو بحثونو غوښتنې تر ډېره خیالي وې او د نړیوالې سوداګرۍ له اصولو څخه هم ډېرې لرې وې[1].

وروسته د ۱۹۴۵ کال په ډېسمبر میاشت کې ۱۵ هېوادونو د ګمرکاتو د تعرفې پر کمولو خبرې پیل کړې، ترڅو خپل اقتصادي وضعیت له دویمې نړیوالې جګړې څخه په راوتلو سره ښه کړي. د دغو خبرو اترو په پای کې، په ۱۹۴۷ کال کې په جنیوا کې تقریباً ۲۳ هېوادونه د ګاټ (GATT) په نوم پر یوه تړون، چې د سوداګرۍ او تعرفې په اړه عمومي توافقنامه وه، سره سلا شول.

د ګاټ په نوم دغه تړون تر ۱۹۹۴ کال پورې دوام درلود او ورسره هم‌مهاله د تعرفو د لازیاتو کمولو او ځینو نورو موخو په اړه هم غونډې وشوې. د بېلګې په ډول په ٦٠مه لسیزه کې د همدغو خبرو اترو له کبله د "ډمپینګ"[2] ضد یوه توافقنامه لاسلیک شوه؛ په ۷۰مه لسیزه کې د تعرفو د لازیاتو کمولو او د ګاټ تړون د سیستم ښه کولو په اړه هڅې وشوې او په ۸۰مه لسیزه کې د یوروګوای له خبرو اترو وروسته، چې د ۱۹۸٦ او ۱۹۹۴ کلونو ترمنځ وشوې، د نړیوالې سوداګرۍ سازمان جوړولو ته لاره پرانیستل شوه.

د نړیوالې سوداګرۍ سازمان یوه اداره ده، چې د سوداګرۍ لپاره د آزادیو او آسانتیاوو د رامنځته کولو په اړه هلې ځلې کوي، دا د یوې داسې ناستې ځای دی، چې حکومتونه پکې د توافقنامو پر سر خبرې کوي او خپلې تجارتي شخړې هواروي[3].

د ګاټ تړون او د نړیوالې سوداګرۍ سازمان ترمنځ یو اساسي توپیر دا دی، چې ګاټ تړون د توکو د سوداګرۍ په اړه و؛ خو د نړیوالې سوداګرۍ سازمان بیا نه یوازې دا چې د توکو د سوداګرۍ په اړه دی، بلکې خدمات او د ملکیتونو (Intellectual property) سوداګري هم په ځان کې رانغاړي.

---

[1] See online: https://www.wto.org/english/thewto_e/whatis_e/tif_e/fact4_e.htm

[2] ډمپینګ (Dumping): الف هېواد په ب هېواد کې د بازار نیولو په موخه د خپل تولید نرخ ټیټوي، ترڅو له یوې خوا مارکیټ خپل کړای شي او له بلې خوا د ب هېواد تولیدات هم زیانمن کړي.

[3] See online: https://www.wto.org/english/thewto_e/whatis_e/tif_e/fact1_e.htm

## د نړیوالې سوداګرۍ سازمان کې د غړیتوب کرونولوژي

د نړیوالې سوداګرۍ سازمان په ۱۹۹۴ کال کې جوړ شو. هغه مهال افغانستان په کورنۍ جګړه کې ښکېل و او یو سم مرکزي حکومت یې نه درلود. که څه هم د طالبانو له راتګ سره په افغانستان کې نسبي امنیت ټینګ شو؛ خو نړیوالو د طالبانو حکومت په رسمیت نه پېژاند او په ملګرو ملتونو کې د مجاهدینو حکومت (د استاد رباني استازي) د افغانستان استازیتوب کاوه. د دې ترڅنګ هغه مهال په افغانستان اقتصادي بندیزونه هم ولګېدل. له همدې کبله حکومت ونشو کړای چې د نړیوالې سوداګرۍ په سازمان کې غړیتوب وغواړي؛ خو کله چې په افغانستان کې د حامد کرزي تر مشرۍ لاندې نوی نظام رامنځته شو، نو افغانستان هم د ۲۰۰۴ کال د نوامبر په ۲۱مه په دغه سازمان کې د غړیتوب رسمي غوښتنه وکړه.

د افغانستان له رسمي غوښتنې وروسته، د نړیوالې سوداګرۍ سازمان د افغانستان په اړه د ۲۰۰۴ کال د ډېسمبر په ۱۳مه یو کاري ټیم جوړ کړ، چې له ۲۸ هېوادونو څخه جوړ و او مشري یې هالنډ کوله. په دغو ۲۸ هېوادونو کې ډېرى هغه هېوادونه وو، چې افغانستان تجارتي اړیکې ورسره لري؛ لکه ګاونډي هېوادونه (چین، پاکستان، تاجکستان) هند، جاپان، روسیه، سعودي عربستان، اروپايي ټولنه او نور.

د ۲۰۰۹ کال د مارچ په ۳۱مه افغانستان د تجارتي سیاستونو راپور وړاندې کړ، چې د ۲۰۱۰ کال د جولای په ۲۶مه بیا د نړیوالې سوداګرۍ سازمان لهخوا پرې پوښتنې او ځوابونه راغلل.

د ۲۰۱۱ کال د جنورۍ په ۳۱مه د افغانستان په اړه د نړیوالې سوداګرۍ سازمان د کاري ټیم لهخوا لومړنۍ ناسته وشوه او د افغانستان د غړیتوب ترلاسه کولو پورې یې په بېلابېلو وختونو کې پنځه ناستې وکړې (چې دویمه ناسته یې د ۲۰۱۲ کال د جون په ۱۸مه؛ دریېمه ناسته یې د ۲۰۱۲ کال د ډېسمبر په ۷مه؛ څلورمه ناسته یې د ۲۰۱۳ کال د جولای په ۲۵مه او وروستۍ ناسته یې د ۲۰۱۵ کال د نوامبر په ۱۱مه نېټه وکړه).

همدا راز افغانستان د نړیوالې سوداګرۍ سازمان له نورو غړو سره هم د سوداګرۍ په اړه بحثونه وکړل او له هغوی سره هم توافق ته ورسېدل. په پای کې د نړیوالې سوداګرۍ سازمان کاري ډلې خپل بشپړ راپور د ۲۰۱۵ کال د نوامبر په ۱۳مه دغه سازمان ته وړاندې کړ او بالاخره افغانستان د ۲۰۱۵ کال د ډېسمبر په ۱۷مه د کینیا د نایروبي په غونډه کې، د اجرائیه ریاست د لومړي مرستیال انجینر محمد خان لهخوا له دغه سازمان سره د پروتوکول پر لاسلیکولو، غړیتوب ترلاسه کړ.

## د نړیوالې سوداګرۍ سازمان په تړاو د افغانستان تګلاره

د نړیوالې سوداګرۍ په سازمان کې د افغانستان د غړیتوب تر شا په عمومي ډول موخه دا وه، چې هېواد به په اقتصادي برخه کې پرمختګ وکړي او د آزادي او بلا امتیازي سوداګرۍ څخه به برخمن شي. په تجارتي او ترانزیټي برخه کې به یې شخړې هوارې او بهرنۍ پانګونې به راجلب کړای شي[4].

افغانستان په دغه سازمان کې د غړیتوب په موخه، د سوداګرۍ، اقتصاد او پانګونې په برخو کې یو شمېر اصلاحات رامنځته کړل او تراوسه یې د توکو د تجارت په اړه ۹ دوه‌اړخیزې توافقنامې او د خدماتو په اړه ۷ دوه‌اړخیزې توافقنامې لاسلیک کړې دي.

د نړیوالې سوداګرۍ سازمان د رامنځته کېدو ستره موخه د تجارت لپاره د پولو خلاصول او د تعرفې ټیټول دي او افغانستان هم له همدې کبله پر ټولو تجارتي محصولاتو ۱۳.۵ سلنه اوسطه تعرفه، پر زراعتي محصولاتو یې په اوسط ډول ۳۳.٦ سلنه او په غیر-زراعتي محصولاتو یې په اوسط ډول ۱۰.۳ سلنه تعرفه لګولې ده.

په نړیوالې سوداګرۍ سازمان کې له غړیتوب سره به، افغانستان په اتومات ډول د مخابراتي معلوماتو تړون هم لاسلیک کړي او د دغه تړون له مخې به د مخابراتي معلوماتو پر ټولو محصولاتو هم ټکس ختم شي. د افغانستان د صادراتو تعرفه په ۲۴۳ صادراتي ډولونو ده، چې له دې جملې څخه پر ۲۹.٦ سلنو باندې به ۱۰ سلنه تعرفه وي او پر ۲۴.۲ سلنو باندې به بیا ۲.۵ سلنه تعرفه راشي. همدا راز افغانستان د خدماتو په برخه کې په ۱۱ برخو او په ۱۰۴ عضوي برخو کې، د ځانګړو اصلاحاتو راوستلو ژمنه هم کړې ده[5].

## پر افغانستان د دغه سازمان د غړیتوب مثبت او منفي اغېزې

د نړیوالې سوداګرۍ سازمان کې د افغانستان غړیتوب به، پر افغانستان د اقتصاد او تجارت په برخو کې ژورې اغېزې وښندي. دا چې افغانستان هم د مخ پر ودې او وروسته پاتې هېوادونو له جملې څخه دی، نو له همدې کبله به دا غړیتوب د افغانستان لپاره مثبت او منفي اغېزې دواړې ولري:

---

[4] See online: http://www.bbc.com/pashto/afghanistan/2015/12/151217_wto_afghaan_membership_iy

[5] See online: https://www.wto.org/english/news_e/news15_e/afgancommitmentsmc10_e.pdf

## مثبت ټکي:

- **د شخړو هوارۍ:** د نړیوالې سوداګرۍ سازمان د جوړېدو یوه موخه دا ده، چې په دغه سازمان کې به بېلابېل هېوادونه خپلې سوداګریزې شخړې هواروي؛ څکه نو له دې وروسته به افغانستان وکړای شي، له نورو هېوادونو سره خپل سوداګریز جنجالونه په آسانۍ سره هوار کړي.
- **مساویانه چلند:** د نړیوالې سوداګرۍ سازمان بله موخه دا ده، چې له هېڅ یوه هېواد سره به امتیازي چلند نه کېږي. که یو هېواد له بل سره امتیازي چلند کوي، نو مجبور دی چې دغه برخورد له ټولو هېوادونو سره وکړي. د بېلګې په ډول که اروپایي اتحادیه د کچالو په برخه کې د امریکا کچالو ته کوم امتیاز ورکوي، نو بیا اړ ده چې د افغانستان له کچالو سره هم ورته چلند وکړي.[6]
- **آزاده سوداګري:** د دغه سازمان د جوړېدو یوه بنسټیزه موخه دا هم ده، چې په نړۍ کې سوداګري ازاده شي او پرمخ یې د تعرفې خنډونه ونه زیږي؛ له همدې امله به افغانستان نه یوازې دا چې د نړۍ د ۱٦۴ هېوادونو مارکېټونو ته لاسرسی ومومي، بلکې صادرات به یې هم په نورو هېوادونو کې له لوړو تعرفو سره مخ نه شي.
- **د ترانزیټي ستونزو هوارۍ:** افغانستان چې په وچه کې راګیر هېواد دی او له نورې نړۍ سره د تجارت په برخه کې له تېرو څو لسیزو راهیسې له ډېرو ستونزو سره مخ دی. د نړیوالې سوداګرۍ سازمان کې د افغانستان له غړیتوب سره به، افغانستان وکړای شي چې د ترانزیټ په برخه کې شته شخړې او ستونزې په دغه سازمان کې هوارې کړي.
- **د نړیوالې سوداګرۍ سازمان مرستې:** ځینې شنونکي په دې باور هم دي، چې په دغه سازمان کې د غړیتوب له ترلاسه کولو سره به افغانستان په ځینو برخو کې له دغه سازمان څخه مرستې هم ترلاسه کړي.
- **د ډمپینګ[7] سیاست مخنیوی:** ځینې پرمختللې کمپنۍ په نورو هېوادونو کې د خپلو توکو د نرخونو له کمولو سره داخلي صنعتونه ماتوي او د هغه ځای مارکېټونه په خپل کنترول کې اخلي. د نړیوالې سوداګرۍ سازمان یوه موخه دا هم ده، چې د ډمپینګ سیاست مخنیوی وکړي.
- **پانګونې راجلبول:** که څه هم د پانګونې جلبول تر ډېره د هېواد له امنیتي او سیاسي ثبات سره ډېره اړیکه لري؛ خو د نړیوالې سوداګرۍ سازمان له غړیتوب سره به افغان حکومت بهرنیو پانګوالو ته شین څراغ ورکړي، چې افغانستان نړیوالو اصولو ته پابند دی او په دې توګه به د بهرنیو پانګوالو باور زیات شي.

---

[6] See online: http://moci.gov.af/en/page/8774

[7] ډمپېنګ اصطلاح په دویم لمنلیک کې تشریح شوې ده.

## منفي ټکي:

- **نویو زیږېدلو صنعتونو ته ګواښ:** په ځینو هېوادونو کې چې صنعتونه نوي راټوکېدلي وي، د هغو هېوادونو حکومتونه له دغو صنعتونو څخه د ملاتړ په موخه پر وارداتي توکو تعرفې لوړوي، څو دغه نوي داخلي صنعتونه له بهرنیو صنعتونو سره په رقابت کې مات نه شي؛ خو د نړیوالې سوداګرۍ سازمان کې له غړیتوب سره به افغانستان پر وارداتو تعرفې لوړې نه شي کړای او په دې توګه به په داخلي توګه نوي ټوکېدلي صنعتونه له بهرنیو صنعتونو سره په مقابله کې ضربه وویني او له وارداتي توکو سره په رقابت کې به مات شي. له همدې کبله داسې انګېرل کېږي، چې په هېواد کې به د بې‌کارۍ کچه نوره هم لوړه شي.
- **سبسېډي[8] ختمول:** د نړیوالې سوداګرۍ سازمان د زراعتي او صنعتي "سبسېډي" پر ختمولو ټینګار کوي، چې دا بیا بهر ته د افغانستان پر زراعتي او صنعتي صادراتو ژوره اغېزه ښندي.
- **د عایداتو کمښت:** د نړیوالې سوداګرۍ سازمان کې له غړیتوب سره به افغانستان ونشي کړای، چې نور پر وارداتو لوړې تعرفې ولګوي او په دې برخه کې به د حکومت عایدات راکم شي.

پای

---

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (93+)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (93+) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (93+) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.

[8] سبسېډي (Subsidy): د تجارت یا اقتصادي کاروبار لپاره د دولت له‌خوا خلکو ته وړیا مالي مرستې ورکول، ترڅو هغوی په بهرنیو بازارونو کې د رقابت لپاره وهڅول شي.